د رسول الله صلى الله عليه وسلم تلبيه وه: «لَبَّيْكَ اللهُمَّ، لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: د رسول الله صلى الله عليه وسلم تلبيه وه: «لَبَّيْكَ اللهُمَّ، لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ» «زه حاضر يم اې لويه څښتنه! زه حاضر يم تا لره هېڅ شريک نشته، زه حاضر يم، يقينا چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي او پاچاهي تا لره ده، تا لره هېڅ شريک نشته». وايي: او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به پکې دا الفاظ زياتول: لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ، وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ، لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ. زه حاضر يم، زه حاضر يم، د خوښۍ د پاسه خوښ يم، ښېګڼې ستا په لاسو کې دي، زه حاضر يم، سوال ستا څخه کېږي او عمل تاته کېږي.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله د حج او يا عمرې په مناسکو کې داخلېده نو تلبيه يې داسې وه چې ويل به يې: (لبيك اللهم لبيك) تاته د حاضرېدو پسې په ټينګه هغې بلنې ته حاضر يم چې تا د اخلاص، توحيد، حج او داسې نورو لپاره راکړې ده، (حاضر يم، تالره شريک نشته، حاضر يم) نو ته يوازې د عبادت مستحق يې، تا لره ستا په ربوبيت، ستا په الوهيت او ستا په اسماوو او صفتونو کې شريک نشته، (يقينا چې ستاينه) شکر او ثناء (او نعمت) ستا لخوا دي او ته يې ورکوونکی يې (تالره) په هر حال کې شکر اېستل کېږي، (او پادشاهي) همدارنګه تا لره ده، (تا لره شريک نشته) نو هر څه يوازې تا لره دي. او ابن عمر رضي الله عنهما به پکې دا (الفاظ) زياتول: (لبيك لبيك وسعديك) له خوښۍ پسې خوښي را په برخه کړه، (والخير بيديك) ټول خېر ستا په لاسو کې دی او ستا لخوا دی، (لبيك والرغباء إليك) غوښتنه او سوال له هغه چا کېږي چې په لاس کې يې خېر وي (والعمل) او عمل ستا لپاره دی، نو ته د عبادت مستحق يې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4535